ABADI weekly هفته نامه
آبادي اوونيزه

د اقتصادي او ټولنيزو مسايلو په برخه کې د رياست الوزراء اقتصادي معاونيت خبري اوونيزه

د رياست الوزراء اقتصادي معاونيت
د مطبوعاتو رياست

ګڼه ۸

نېټه: شنبه، د ذوالحجې ۲۶ مه، ۱۴۴۴ هـ. ق کال






د روان ۱۴۰۲ لمريز کال د چنګاښ په ۱۷ مه د سرپل ولايت د قشقري ۲۱ نمبر څاه څخه په ازمايښتي بڼه د خامو تېلو استخراج پيل شو. په دې اړه د کانونو او پټروليم وزارت سرپرست شيخ شهاب الدين دلاور وويل چې د دغه ولايت تېل د هېواد له مهمو اقتصادي زېرمو څخه دي. د نوموړي په وينا، په نږدې راتلونکي کې به د سرپل ولايت د قشقري د تېلو له څاګانو څخه هره ورځ سل ټنه تېل استخراج شي. د ماليې وزارت د نفتو او ګازو دولتي شرکت او د چين قراردادي شرکت (افچين) په ګډه د قشقري د نفتو په ساحه کې د استخراج يوه نوې څاه پرانيستله. ماليې وزارت ويلي چې دغه څاه اوس مهال په ۲۴ ساعتونو کې ۷۰ ټنه خام تېل استخراجوي او په نږدې راتلونکي کې به د دې څاه د استخراج کچه ۱۰۰ ټنو ته ورسيږي.

افغانستان کې د نورو طبيعي زيرمو ترڅنګ د تيلو او ګازو پريمانه ذخيرې شته دي، که له دې زيرمو څخه په ملي شتمنيو کې ګټه پورته شي، د کانونو ناقانونه کيندنو مخنيوی وشي، بې له شکه چې دا چاره د اقتصاد په وده او پرمختيا کې ګټوره تماميدای شي. همدې اصل ته په کتو اسلامي امارت په هېواد کې د ځينو کانونو د را ايستلو په برخه کې عملي ګامونه پورته کړي دي. د قشقري د تيلو بلاک څخه د استخراج چارې ددې لړۍ يوه برخه ده.

اما اسلامي امارت چې دا مهال له نړيوالو بنديزونو سره مخ دی، نه شي کولای په يوازي ځان د هېواد ټولې طبيعي زيرمې راوسپړي، ځکه د کانونو کيندلو لګښت زيات دی او دا وخت د اسلامي امارت وس نه ورته رسيږي. اوس ددې وخت رارسيدلی چې کورني پانګوال په بهر کې د پانګونې پر ځای په هېواد کې پر خپلو طبيعي زيرمو او کانونو پانګونه وکړي. په دې برخه کې اسلامي امارت ته لاس ورکړي او ترڅنګ يې بهرني پانګوال هم دې ته وهڅوي چې په هېواد کې پانګونه وکړي. که چيرې په دې برخه کې ګامونه پورته او پانګونه وشي، پايلې به يې مثبتې او ګټورې وي. ځکه له دې سره به له يوې خوا بې کارو هيوادوالو ته د کار زمينه برابره شي، له بل لوري به له طبيعي زيرمو او کانونو څخه ترلاسه شوی عايد د هيواد د اقتصاد پر وده او پرمختيا مثبت اغيز وښندي. اسلامي امارت همدې ټکو ته په پاملرنې سره دادی د نورو کانونو ترڅنګ د قشقري د تيلو څاګانو څخه د استخراج چارې پيل کړې چې دا به د تيلو په برخه کې د افغانستان ستونزې تر يوه بريده هوارې او عايد به يې په پرمختيايي چارو کې ولګول شي او له دې کار سره به اقتصاد هم وغوړيږي.



## د رياست‌الوزراء اقتصادي مرستيال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند له لوري د کابل-کندهار لويې لارې له ارغندي څخه تر دوراني بازار پورې سړک د قير اچونې چارو پروژه پرانيستل شوه



د رياست‌الوزراء اقتصادي مرستيال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند له لوري نن شنبه د روان لمريز کال د سرطان مياشتې په ۲۴ مه نېټه د کابل-کندهار لويې لارې له ارغندي څخه تر دوراني بازار پورې سړک د قير اچونې چارو پروژه پرانيستل شوه. په يادو مراسمو کې د رياست‌الوزراء پر اقتصادي مرستيال سربېره د ټولګټو وزارت سرپرست محترم ملا محمد عيسی ثاني، د کابل او ميدان وردګ ولايتي مسوولينو او د خصوصي سکټور يوشمېر استازيو هم حضور درلود. د يادې پروژې د پرانيستو مراسمو ته محترم ملا صاحب د خپلو خبرو پر مهال وويل، چې د هېواد د نورو لويو لارو په پرتله د کابل-کندهار پر لويه لار بيروبار زيات دی. د دې لارې د اړول شوي سړک دواړو خواوو ته پراته کورونه او پر دغه لار تلونکي مسافر د خامه سړک له دوړو ډېر په تکليف دي. موږ له قراردادي شرکتونو څخه غواړو چې ياد سړک څومره ژر ممکنه وي، په ښه کيفيت، پوره صداقت او امانتدارۍ سره ورغوي. همدا راز د رياست‌الوزراء اقتصادي مرستيال زياته کړه چې قراردادي شرکتونه د ياد سړک په هغو برخو کې چې د جوړېدو چارې يې عملاً جريان لري دواړو خواوو ته پر فرعي سړکونو د عامو هېوادوالو د تلو راتلو پر مهال اوبه واچوي، څو پر دغه لار تلونکو مسافرو او شاوخوا

کورونو ته تکلیف ونه رسېږي. همدارنګه په غونډه کې د خصوصي سکټور استازیو وویل چې د دې لویې لارې په بیارغونې سره به د هېواد له جنوب څخه مرکز او بیا شمال ته د سوداګرۍ او ترانزیټ په برخه کې ګڼې آسانتیاوې رامنځته شي. د کابل-کندهار لویې لارې د بیارغونې چارې په ۷ برخو وېشل شوې، چې له ارغندي تر دوراني بازار پورې سړک یې ۲۷ کیلومتره اوږدوالی، ۱۱ متره پلنوالی او د ۵۰ او ۸۰ مترو په اوږدوالي دوه لوی پلونه او ۶۰ پلچکونه لري، چې شاوخوا یو میلیارد افغانۍ لګښت پرې راځي. دغه سړک د اسلامي امارت په مالي ملاتړ د خصوصي سکټور له لوري په یو کال کې رغول کېږي چې په بشپړېدو سره به یې پر دغه لار تلونکو مسافرو او د سوداګریزو توکو په لېږد کې د پام وړ اسانتیاوې رامنځته شي.



## د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د امام ابو حنیفه (رح) د دوهم ملي او نړیوال نندارتون په پرانیست غونډه کې ګډون او وینا وکړه

د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د امام ابو حنیفه (رح) د دوهم ملي او نړیوال نندارتون په پرانیست غونډه کې ګډون او وینا وکړه

محترم ملا صاحب د یاد نندارتون ګډونوالو ته د خپلو خبرو پر مهال وویل، چې نندارتونونه د یو هېواد صنعتي تولیدات او کرنیز محصولات خلکو ته وروپېژني او حکومتونه هم په کور دننه او بهر د بازارموندنې په خاطر نندارتونونه جوړوي. اسلامي امارت هم د افغانستان د صنعتي تولیداتو او کرنیزو محصولاتو د معرفي کېدو لپاره په کور دننه او بهر کې د نندارتونونو جوړولو لړۍ پیل کړې ده.

محترم ملا صاحب د نندارتونونو ارزښت ته په کتو وویل چې د اسلامي امارت له راتګ وروسته دا تر ټولو لوی نندارتون دی چې تر ۶۰۰ زیاتو غرفو کې بېلا بېل صنعتي او کرنیز توکي ننداري ته وړاندې شوي.

محترم ملا صاحب زیاته کړه، په دغه نندارتون کې د شانګهای سازمان هم د ګډون غوښتنه کړې ده، چې اسلامي امارت د یاد سازمان دغه اقدام ستایي او هرکلی یې کوي.

محترم ملا عبدالغني برادر اخوند وویل چې د اسلامي امارت له راتګ سره د امنیت په ټینګېدو په ټول هېواد کې پانګونې او د کانونو را ایستلو ته تر بل هر وخت ښه زمینه برابره شوې او له دې برکته افغانستان تازه د بیارغېدو مرحلې ته داخل شوی.

د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال د مرکزي او سویلي آسیا هېوادونو ته ډاډ ورکړ چې افغانستان د ترانزیټ لپاره تر ټولو خوندي لاره ده او په دغه برخه کې یې د نورو اسانتیاوو پر رامنځته کېدو سربېره د لویو لارو بیارغونه هم پیل کړې، چې ښه بېلګه یې په دې وروستیو کې د سالنګ او کابل-کندهار لویو لارو د بیارغونې چارو پرانیسته ده.

محترم ملا عبدالغني برادر اخوند په هېواد کې دننه د سوداګرو پراخېدو او د سوداګرو ستونزو ته د رسېدو په هکله وویل چې په تېر نږدې وخت کې یې په همدې موخه په ارزګان او زابل ولایتونو کې د سوداګرۍ خونې پرانیستې دي او د افغانستان د سوداګرۍ او پانګونې خونې ته یې هدایت وکړ چې په بغلان ولایت کې هم ژر تر ژره د سوداګرۍ خونه پرانیزي او لازم تشکیل ورته برابر کړي.

د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال ټولو افغان او بهرنیو پانګوالو ته بلنه ورکړه چې راشي او په افغانستان کې پانګونه وکړي. محترم ملا صاحب زیاته کړه چې اسلامي امارت له خپل لوري بهرنیو پانګوالو ته ډاډ ورکوي چې له ټولو هغو امتیازاتو به برخمن وي کوم چې افغان پانګوالو ته ورکول کېږي.

د امام ابو حنیفه (رح) دوهم ملي او نړیوال نندارتون د اسلامي امارت په ملاتړ د افغانستان د سوداګرۍ او پانګونې خونې له لوري افغاني محصولاتو او تولیداتو ته د بازارموندنې، د ملي پانګوالو ملاتړ، د ملي او نړیوالو سوداګرو ترمنځ د اړیکو برابرولو او هېوادوالو ته د کورنیو تولیداتو او محصولاتو د ورپېژندلو په موخه جوړ شوی، چې په سلګونو غرفو کې بېلا بېل کرنیز، ساختماني، لاسي صنایع، طبي وسایل، درمل او نور ملي محصولات او تولیدات پکې ننداري ته وړاندې شوي دي. د یادولو وړ ده چې په دغه نندارتون کې پر کورنیو صنعتکارانو سربېره د ایران، ترکمنستان، ترکیې، پاکستان او یوشمېر نورو هېوادونو صنعتکارانو هم خپل تولیدات ننداري ته وړاندې کړي دي. د امام ابو حنیفه (رح) دویم ملي او نړیوال نندارتون د روان لمریز کال د سرطان میاشتې له ۲۵ مې نېټې شروع او د همدې میاشتې تر ۳۱مې پورې به دوام ولري.

# د رياست‌الوزراء اقتصادي مرستيال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند له لوري د سالنګونو لويې لارې د بيارغونې چارو پروژه د روان لمريز کال د سرطان مياشتې په ۲۱مه نېټه پرانيستل شوه



د رياست‌الوزراء اقتصادي مرستيال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند له لوري د سالنګونو لويې لارې د بيارغونې چارو پروژه د روان لمريز کال د سرطان مياشتې په ۲۱مه نېټه پرانيستل شوه. په يادو مراسمو کې د رياست‌الوزراء پر اقتصادي مرستيال سربېره د ټولګټو چارو وزارت سرپرست محترم ملا محمد عيسى ثاني، د پروان او بغلان ولايتي مسؤلينو او د خصوصي سکټور استازيو حضور درلود. محترم ملا صاحب د يادې پروژې د پرانيستې په موخه جوړو شويو مراسمو ته د خپلو خبرو پر مهال وويل، له قوش‌تېپې ملي کانال وروسته دا دوهمه لويه ملي او اقتصادي پروژه ده چې په بشپړېدو سره به يې د هېواد له شمال څخه جنوب ته د تګ راتګ او سوداګرۍ په برخه کې ګڼې آسانتياوې رامنځته شي. د رياست الوزراء اقتصادي مرستيال زياته کړه چې د افغانستان اسلامي امارت په ټول توان سره د دې ملي پروژې بشپړولو ته چمتو دی او په دغه برخه کې قراردادي شرکتونو ته د هر ډول همکارۍ ډاډ ورکوي. د سالنګونو د بيارغونې پروژه په شمالي او جنوبي سالنګونو کې د افغانستان اسلامي امارت په ملاتړ د خصوصي سکټور له لوري د ۸۰ کيلومتره په اوږدوالي سره د دوه کلونو په موده کې بشپړېږي، چې زرګونو کسانو ته پکې کاري فرصتونه رامنځته کېږي. د سالنګونو لويې لارې په واسطه د هېواد پر ۹ شمالي ولايتونو سربېره ځلور لوی سوداګريز بندرونه له مرکز کابل سره وصلېږي. په دغه لويه لار په ورځني ډول زرګونه مسافر وړونکي او بار وړونکي موټرونه تګ راتګ کوي. پر دغه لاره تلونکي مسافر او موټروانان خوښ دي چې په بيارغېدو سره به يې شته ستونزې حل شي. همدارنګه په غونډه کې د خصوصي سکټور استازيو وويل، چې په هېواد کې د لويو لارو او په ځانګړي ډول د سالنګونو په بيارغېدو سره به د افغانستان سوداګرۍ او د افغانستان له لارې له مرکزي آسيا څخه سويلي آسيا ته د ترانزيټ په کچه کې د پام وړ زياتوالی راشي. په پای کې محترم ملا صاحب له قراردادي شرکتونو څخه وغوښتل چې څومره ژر ممکنه وي دغه پروژه په ښه کيفيت، په پوره صداقت او امانت‌دارۍ سره بشپړه کړي.





# په کابل ښار کې تر اوسه پورې ۳۶۵۵۰ سوالګر راټول شوي

د سوالګرو راټولولو کمېټې پر کابل ښار سربېره د هېواد په لويو ولايتونو لکه، ننګرهار، کندهار، بلخ، هرات، نورستان، پکتيا او لوګر کې هم د سوالګرو راټولولو لړۍ پيل کړې، چې تر دې دمه يې زرګونه سوالګر راټول کړي دي. دا پروسه چې لومړی له کابل ښار څخه پيل شوې وه د روان لمريز کال د سرطان مياشتې تر ۲۱مې نېټې د کابل ښار له بېلابېلو سيمو ۳۶۵۵۰ سوالګر راټول شوي دي. د راټولو شوو سوالګرو له جملې ۱۳۵۷۱ ښځينه، ۵۸۸۳ نارينه او پاتې ۱۷۰۹۶ ماشومان دي چې د ماشومانو په ډله کې بيا ۷۱ بې سرپرسته ماشومان پېژندل شوي. بې سرپرسته سوالګر ماشومان له بايوميټريک وروسته د کار او ټولنيزو چارو وزارت له لوري روزنتون ته داخلېږي او هلته ورته پر اعاشې سربېره د زده کړو او تعليم زمينه هم برابرېږي. د يادونې وړ ده چې پر کابل سربېره د هېواد په لويو ښارونو کې هم پر مستحقو سوالګرو په مياشتني ډول د نغدي او خوراکي توکو د مرستو وېش لړۍ پيل شوي، چې دا پروسه به په راتلونکي کې هم دوام ولري.






# مکثی بر اهمیت گاز و انتقال لوله گاز از شبرغان به مزار شریف

نویسنده: هدایت الله واحدی

## مقدمه

از زمانیکه انسان ها نفت، گاز و مشتقات آن را برای سوزاندن و تولید انرژی به کار گرفتند تا به حال از آن بسیاری از مواد اولیه مورد نیاز در صنعت ساخته می شود. هر روزی که می گذرد ارزش نفت و گاز برای تولید مواد جدید بالاتر می رود. در کنار سهم قابل توجهی از تمامی انرژی مورد نیاز بشر، که با مصرف نفت و گاز به دست می آید. تخمین می شود که ۲۵ فیصد انرژی جهان را گاز و ۴۵ فیصد را نفت تأمین می کند، با این حال ارزش نفت و گاز برای تولید مواد اولیه در صنعت غیر قابل انکار است. به همین دلیل در آینده ای صنعت، همواره به این منابع با ارزش نیاز داریم و از آن باید به وجه احسن استفاده و مدیریت نمود. با در نظر داشت اهمیتی که گاز طبیعی و مایع و نفت در تولید انرژی و بکار انداختن چرخه اقتصادی و همچنان استفاده در سایر امور دارد، امارت اسلامی افغانستان با توجه به منابع سرشاری از گاز در شمال و سایر نقاط کشور به ویژه ولایت شبرغان جهت استفاده مزید از این پدیده مهم انرژی زا به انتقال لوله گاز از شبرغان به مزار شریف مبادرت ورزیده که در نوشته حاضر پیرامون آن نکاتی جهت ارضای حس کنجاوی علاقمندان جمع آوری نموده ایم.



## اهمیت گاز طبیعی و مایع

هر قسمت از زنجیره تولید گاز طبیعی برای تأمین تقاضای مصرف کننده گان حیاتی و مهم است. مقدار ذخایر و تولید می تواند بالای انتظارات بازار گاز و روی قیمت ها در شرایط فعلی و آینده تأثیر بگذارد. گاز طبیعی، به عنوان پاک ترین مواد سوختی جهت کاهش آلوده گی محیط زیست و عنصر مهم در کاهش مصرف انرژی در دنیا شناخته شده است. جایگزینی زغال سنگ با گاز طبیعی سریعترین و ارزانترین روش کاهش انتشار گاز دی اکسید کاربن در تاسیسات انرژی در تولید برق در سالهای ذیل است.

در میان مواد سوختی انرژی زا، زغال سنگ عامل انتشار ٤٤ فیصد گاز دی اکسید کاربن در سال ۲۰۱۰ بود. زغال سنگ تولید کننده انرژی در بسیاری از کشورها می باشد، به عنوان مثال در چین حدود ۷۰ فیصد انرژی از زغال سنگ تولید می شود.گاز طبیعی سریعترین روش برای کاهش انتشار گاز دی اکسید کاربن است، همچنان گاز طبیعی باعث کاهش آلوده گی های همچون اسید نایتروجن، اکسید سلفر و ذراتی می شود که به صحت انسانها مضراست. بسیاری از کارشناسان در حال حاضر با مزایای گاز طبیعی آشنا شده اند و اکنون در تلاش توسعه آن هستند. دستگاه های صنعتی با سوخت گاز به راحتی روشن و خاموش می شوند و نسبت به موارد دیگر سریعتر نصب می شوند و ارزانتر اند اکثریت فابریکه ها و دستگاه های تولیدی اکنون در حال توسعه کار و بار خود با استفاده ازگاز استند. مثلاً بین سالهای ۲۰۰۸ و ۲۰۳۵ تقاضای جهانی گاز تا ٦۰ فیصد افزایش می یابد؛ این رشد در بعضی مناطق ممکن است بیشتر باشد، مثلاً در خاورمیانه تا ۲ برابر و در چین تا ۸ برابر رشد داشته باشد.



## مناطق و حوزه های نفت و گاز افغانستان

نخستین تحقیقات جهت اکتشاف نفت و گاز در افغانستان در سال ۱۹۵۶ میلادی انجام شده است به طوری‌که در سال ۱۹۵۹ میلادي سبب اکتشاف ساحه نفتی یانگوت در ولایت سرپل گردید. در فاصله سال‌های ۱۹۵۹ تا ۱۹۶۶ م پنجاه حلقه چاه اکتشافی دیگر نیز در این حوزه حفر گردید که باعث اکتشاف ۳ ساحه گازی بزرگ منطقه ای گازی یتیم تاق (۱۹۶۰)، ساحه گازی خواجه گوگردک (۱۹۶۱) و منبع گازی خواجه برهان (۱۹۶٤) شد. از سال ۱۹٦٦ تا ۱۹۸۱ م دست کم دو ساحه نفتی کوچک، یک منطقه گازی بزرگ جرقدوق و دو حوزه گازی دیگر کشف شده‌است که عمدتاً در بخش شمال غربی کشور می‌باشد. بر اثر پژوهشی که در این اواخر صورت گرفت حوزه شمال قسمتی از حوزه عظیم نفت و گاز آمو دریا می‌باشد که از نظر میزان ذخیره در بین ۱۵۲ مین ناحیه نفتی و گازی کشف شده جهان بوده در رده پانزدهم قرار دارد. این حوزه ٤۰۰ هزار کیلومتر مربع وسعت دارد و در چهار کشور افغانستان، ایران، ترکمنستان و ازبکستان گسترش دارد؛ ولی تحقیقاتی که توسط سازمان ناسا انجام شد مشخص گردیدکه در افغانستان بیشتر از ۱۰۰ نقطه نفت و گاز وجود دارد.

بر اساس مطالعات انجام شده می‌توان مجموع ذخایر نفت و گاز شمال کشور افغانستان را اعم از ذخایر کشف شده و کشف نشده که قابل استحصال می‌باشند به صورت زیر تعیین نمود.

درسال‌های ۱۹۸۰ میلادی روس‌ها مجموعاً ذخایر معادن افغانستان را ۹۵ میلیون بشکه و قابل استحصال را ۳۰۰ میلیون بشکه تخمین نموده بود؛ ولی بعداً این ارقام اضافه شده‌است. ذخیره منطقه نفتی حوزه‌های افغان- تاجیک و آمو دریا در حدود ۱۵ تریلیون متر مکعب نفت برآورد شده‌است. اگر به بشکه تبدیل شود چیزی در حدود ٦۰ تریلیون بشکه نفت خواهد شد که در جدول کشورهای دارای ذخایر نفت در ردهٔ ۹ بعد از روسیه و بالاتر از کشور لیبی قرار می‌گیرد. مجموع ذخایر کشف شده گاز در حدود ٤٤٤ بیلیون متر مکعب، مجموع ذخایر گاز مایع ۵٦۲ بیلیون متر مکعب گاز می باشد. صنعت گاز از سه بخش تشکیل شده است(عرضه یا تولید گاز طبیعی که شامل، اکتشاف و توسعه منابع و ذخایر گازی و تولید است که خود شامل، حفاری، استخراج و جمع آوری گاز می شود. بخش دوم که در این بخش، گاز طبیعی از طریق سیستم های جمع آوری از سر چاه به سمت تأسیسات گاز انتقال می یابد تا نا خالصیها و سایر هیدروکاربن ها از فاز گاز جدا شده و گاز خشک آماده برای تزریق به خط لوله گاز رسانی شود . حمل و نقل که شامل سیستم خطوط انتقال درون و برون کشور می شود و گاز را از خطوطی با قطرات بزرگ به تجهیزات ذخیره سازی و مصرف کنندگان دیگر شامل نهادهای صنعتی، تجهیزات صنعتی و شرکتهای توزیع محلی (که گاز را به سمت مصرف کنندگان کوچکتر انتقال می دهند) منتقل می سازد هر قسمت از زنجیره تولید گاز طبیعی برای تأمین تقاضای مصرف کنندگان حیاتی و مهم است. مقدار ذخایر و تولید می تواند روی انتظارات بازار گاز و روی قیمت ها در شرایط فعلی و آینده تأثیر بگذارد.





## امارت اسلامی و انتقال لوله گاز از شبرغان به مزار شریف

امارت اسلامی افغانستان متعهد به اعمار و بازسازی کشور در تمامی عرصه ها بوده و همیشه در تلاش است تا خدماتی شایانی را جهت رشد و توسعه اقتصادی به هدف خود کفایی که در پرتو آن فراهم شدن زنده گی مرفه مردم حتمی است، انجام دهد، که به سلسله این هدف والا شیخ شهاب الدین دلاور وزیر معادن و پترولیم امارت اسلامی و حاجی محمد یوسف وفا





والی ولایت بلخ طی مراسمی شبکه انتقال گاز از شبرغان به شهر مزار شریف را افتتاح کردند. هدف آن استفاده مزید از انرژی گاز در تولیدات صنعتی کشور جهت رشد و توسعه تولیدات صنعتی به منظور خودکفایی در آینده و موازی به آن حل مشکلات اقتصادی مردم از ناحیه مواد سوختی و ... می باشد. این پروژه ۹۵ کیلومتر طول دارد و با مصرف ٦٠٩ میلیون افغانی تکمیل می‌شود. این پروژه طی سه سال به بهره برداری سپرده می شود و از بودجه ملی کشور تمویل می گردد. شیخ شهاب‌الدین دلاور، وزیر معادن و پترولیم در مراسم افتتاح این پروژه گفت انتقال خط لوله گاز از شبرغان به مزارشریف پس از ٥٢ سال دوباره از سر گرفته شده است و از این خط لوله گاز در صنعت کود، برق و شیشه سازی استفاده می‌شود و در آینده به منازل رهایشی نیز وصل و توزیع خواهد شد.

شیخ شهاب‌الدین دلاور همچنان در مراسم افتتاح این خط لوله گاز اظهار داشت: خط لوله گاز قبلی که بیش از ٥٠ سال قبل ایجاد شده بود تقریباً از کار افتاده است و توان پاسخگویی به نیاز مصرف برق مزارشریف، غضنفر گروپ و جیت گلاس را نداشت؛ اما اکنون با تکمیل این پروژه بزرگ، همزمان با افزایش ظرفیت تولید اداره کود برق در مزارشریف، از ظرفیت آن برای تولید شیشه و گاز CNG در این ولایت استفاده شده و از اتلاف گاز در این مسیر نیز جلوگیری می‌شود. این پروژه ظرفیت انتقال ۱۷۰ هزار متر مکعب گاز را در ٢٤ ساعت دارد. طول این خط لوله ٩٤,٥ کیلومتر است که از خواجه گوگردک در شهر شبرغان تا کود برق مزار شریف امتداد دارد و یکی از پروژه‌های مهم گازی افغانستان به شمار می‌رود. این حقایق به خوبی میرساند که امارت اسلامی افغانستان با وجود مشکلات عدیده اعم از مسایل سیاسی( عدم به رسمیت شناختن، اعمال محدودیت در ابعاد مختلف به ویژه منجمد شدن سرمایه مردم افغانستان توسط امریکا و محدودیت ها در حصه نظام بانکداری و انتقال پول جهت سرمایه گذاری های داخلی و خارجی و سایر تحریمات که هیچ اساس قانونی و مشروع ندارد، به آن هم به کار ها و اموری رسیده گی می کند که نظیرش با حاکم بودن چنین شرایط و احوال در طول تاریخ افغانستان به وقوع نه پیوسته است.



## نتیجه گیری

از مفاهیم که در بالا به طور فشرده روی آن بحث شد چنین نتیجه می گیریم که هر بخشی از زنجیره تولید گاز طبیعی برای تأمین تقاضای مصرف کنندگان حیاتی و مهم است. مقدار ذخایر و تولید می تواند روی انتظارات و نیاز های بازار گاز و همچنان روی قیمت ها در شرایط فعلی و آینده تأثیر بگذارد. به همین ترتیب در دسترس بودن ظرفیت خطوط لوله گاز ، تعیین کننده می باشد که چه مقدار گاز و به چه نواحی قابل انتقال است، بنابراین این فاکتورها نیز روی زنجیره تولید تأثیر می گذارند. همچنان روی توازن عرضه-تقاضای گاز طبیعی در سطح ملی و منطقه ای اثر خواهند گذاشت. خوشبختانه که افغانستان از لحاظ منابع گازی و نفتی یک کشور غنی بوده و می تواند با سرمایه گذاری ها در عرصه بازسازی و ایجاد تأسیسات در این خصوص به رشد و توسعه اقتصادی نایل گردد. امارت اسلامی با توجه بر اهمیت مسئله همیشه سعی دارد تا به اعمار و بازسازی منابع عایداتی مبادرت ورزد و از این طریق خدماتی شایانی را به نفع کشور و ملت خویش انجام دهد تا باشد کشور و ملت ما در آینده نه چندان دور به مدارج عالی ترقی فایق آید، چنانچه یکی از نمونه های بارز آن جهت تحقق این هدف بزرگ همانا افتتاح انتقال لوله گاز از شبرغان به مزار شریف می باشد، که در پرتو آن سهولت های لازم برای مردم ما و در طویل المدت به رشد و توسعه اقتصادی منتهی می گردد.